په افغانستان
کې د کاناډا ماموریت
www.afghanistan.gc.ca









# ښوونه او روزنه

## ښوونې او روزنې ته د ښځو او انجون لاس رسی



© با سپاس از بنیاد رسانه و فرهنگی هینداره / عبیدالله

په افغانستان کې زیاتره ښوونکې، په خاصه توګه ښځینه ښوونکې رسمي روزنه نده ترلاسه کړې. د هغو پروژو ملاتړ کوم چې د پوهنې د کیفیت د ښه والي لپاره پانګونه کوي دا پانګونه به د ځوانو افغانانو د ښې راتلونکې لپاره ترسره شي.

پداسي حال کې چې په تېرو لسو کلونو کې د ماشومانو او ځوانانو لپاره ښوونه او روزنه په لوړه کچه پراختیا موندلې، خو بیاهم پوهنې ته د لاس رسي په برخه کې د هلکانو او انجونو تر منځ او د ښارونو او لرې پرتو کلیو تر منځ زیات توپیر شتون لري. د بېلګې په توګه د کندهار ولایت په کلیوالي سیمو کې ښوونځي ته د شاملېدو کچه په هلکانو کې یوازې ۲۰ سلنه او په انجونو کې د ۱۰ سلنې نه هم ښکته ده. د پوهنې په برخه کې دا توپیر په لوړو ټولګیو کې لا نور هم زیاتېږي، نږدې ۵۰ سلنه کلي د نهم ټولګي نه پورته نور ښځینه زده کوونکې نلري.

### کاناډا څه کوي

د کاناډا هېواد د افغانستان د پوهنې وزارت سره مرسته کوي تر څو رسمي ښوونې او روزنې ته د انجونو لاس رسي زیاته شي، ښوونکو ته په ځانګړي توګه ښځینه ښوونکو ته روزنه ورکړل شي، او د کلیو په کچه نظارتي ځانګې جوړې شي لکه د ښوونځیو اداري، د ښوونکي او والدینو ټولنې، د زده کوونکو او ښوونکو انجمنونه. دا پروګرامونه په اوږد مهال کې، رسمي ښوونې او روزنې ته د ټولو افغان ماشومانو لاس رسی پراخوي او د دې هېواد د پوهنې سیستم د افغانستان خلکو په مقابل کې نورهم روښانه کوي.

کاناډا به د افغان ماشومانو د روزنې اوسنیو اړتیاوو ته هم پاملرنه وکړي او د هغو سیمه ایزو پروګرامونو سره به مرسته وکړي کوم چې په کلیو کې میشت ماشومانو ته روزنه ورکوي، دا سیستم انجون ته د لاسرسی لپاره خورا ښې پایلې درلودلې دي.د کاناډا مرستې به د سیمه ایزو پروګرامونو د ملاتړ لپاره دوام ولري دا پروګرامونه د پوهنې د وزارت او د رسمي ښوونې او روزنې سیستم سره ټینګې اړیکې ولری. همداراز مونږ به د افغانستان د ملي روزنې سکتور د رونهوالي او شفافیت په اړه مرسته وکړو تر څو یو خوندی روزنیز چاپیریال ل پراختیا ومومي.